سید عبید الله نادر

۲۰۲/۱۲/۰۹

# اروا ښاد ډاکتر ناکامورا ته!

ستا ګَرد وهلي څیره ، چې دوړې او خاورې پرې ناستي دي ،او دا ستا زحمت کښه څیره چې په ټولو تصویرونو کې لیدل کیږي ،او هغه تصویرونه چې مونږ ته په دي فانی دنیا کې له تا نه پاتي دي،په وضاحت سره ستا تصویرونه هم ستا د سخت کوشی سخت ځانی او کار سره د میني ښکارندویي کوي ، تا دي مظلوم ملت او قوم له پاره چې خپلې ریښی ریښی ګریوانونه نه شي راټولولای تا د دوی د خدمت له پاره په ډیر صداقت او ایمانداری سره خپلي مټي راونغاړلي او دوی ته دي خدمت وکړو ، چې نمونې یې پرتي دي ، خو نورو آرمانونو ته چا پرینښودي ،دوی به هیڅ کله ستا زیارکښ او خواری کښه څیره هیره نه کړي ،تر څو چې انسانیت وي ستا دا خدمتونه به له هیڅ چا هیر نه شي ،ستا سر ښندنه او فداکاری ډیره او تر هر څه لوړه وه او عملاً دي و ښوده ،ستا لورینه په دي خلکو تر مور او پلار هم زیاته وه.

ته یو بهادر او زړه ور انسان وي چې د اخطارونو او خطراتو با وجود هم تا خپل کار ته دوام ورکړی وو ، خو ستا دښمنان د خیرن ضمیر او باطن خاوندان دي ، چې هیڅ مذهب نه مني ،او د انسانیت په مذهب کې هم نه دي، او د معرفت وړمې او بوی ترې نه راخیژي ،ته د داسی خیرن باطن او تیاره ضمیرونو خاوندانو له خوا ووژل شوي ،چې د انسان په صورت کې تر دیو او دَدَ هم بد تر دي ، دوي د چا په ژبه او د معرفت په وینا او خبرو هم نه پوهیږي ،ستا د دښمنانو او د دي استخباراتي کړیو له پاره د سلیمان علیه السلام په شان انسان په کار دی ،ځکه هغه د حیواناتو په ژبه ښه پوهیده ،چې دا بی ضمیره پوه کړي ،دوي د انسانیت په ژبه نه پوهیږي.

*****

د ۲۰۱۹ کال د دسمبر پر څلورمه اروابناد ډاکتر تیتسو ناکامورا چې په خلکو کې د کاکا مراد په نامه مشهورروو او خلکو په دي نامه نازاوه ، د ګاونډی استخباراتو له خوا د کنړ د اوبو د مهارولو په خاطر ووژل شو، چې په دي ورځي د جلال آباد د ښار امنیت یې هم ډیر ضعیف وښوده د دي دومره خدمتونو باجود چې ده کړي وو مهاله ده چې ګوندی دی دي افغانانو وژلی وي ،د ده قدرداني د افغانانو له خوا په ټوله میډیا کې مونږ وینواو نور یې هم شاهدان دي نو افغانان خو یې نه وژني، نو معلوم داره خبره ده چې ، د پاکستان د استخبارتو په اشاره او د دوی له خوا وژل شوی، ځکه ده غوښتل چې د کنړ د سیند اوبه مهار کړي ، د سمسورتیا او آبادۍ لوړ آرمانونه یې لرل ،چې هغي ته چا پرینښود، څو ورځي د مخه د ده د وژلو نه ډاکتر محمد اشرف غني ریس جمهور ځان ته وباله، او په یو مډال او افغانی تابیعیت یې ونازاوه ، دا مراسم می څرنګه چې په فیسبوک کې لیده ، نو هماغه ساعت می وویل:

کاشکي اشرف غني د ده پرځای د ده پر امنیت باندی ټینګار کړي ، او زما داخبره د ناکامورا ووژل خو نوم د انسانیت ته د خدمت په کتاب کې ثبت شو په مضمون کې راغلي چې د ۲۰۱۹ کال نه راپډي اضافه د دیرشو خپرونو کې خپورشوي چې کاشکي اشرف غني د دي پر ځای د ده امنیت نور هم ټینګ کړی وای ،خو په ډیر افسوس چې دا کار ونه شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ